**په ونو کې د مېوو پلور**

(ژباړه)




**پوښتنه:**

**جليل القدر عالم او محترم امير صاحب، اسلام عليکم ورحمة الله و برکاته!**

زموږ په سيمه کې له حاصل را ټولولو مخکې په ونو کې د حاصلاتو پلور دود دی. دا ډول حاصلات لکه: ګل مېخک، مرچ، کوپره او داسې نور په همدې ډول پلورل کېږي. د ځمکې څښتن هغه کري او اوبوي، چې ډېره مېوه وکړي. کله چې مېوه د هغه پلان سره سم حاصل ورکوي، هغه په اټکلي بيه پلوري. نو پېرودونکی بايد حاصل ترې راټول کړي، مناسبه معامله وکړي او د ځمکې څښتن له حاصل اخيستو مخکې هوکړه شوې بيه ورکړي. د خرڅلاو پر مهال د پلورونکي او پېرودونکي تر منځ پر بيه هوکړه کېږي. پلورونکی يې له پلور وروسته نور د ورستني حاصل مسئول نه دی. اخيستونکی په همغه وخت او يا يو بل مناسب وخت حاصل را ټولولی شي، خو له معاملې ورسته پيرودونکی مسئول دی، چې کښت له حيواناتو، غلو او نورو وساتي. آيا دا ډول معامله په اسلام کې روا ده؟ الله سبحانه وتعالی دې تاسې ته خير کثير او ستاسو تر مشرۍ لاندې دې دغه امت ته برى ورپه برخه کړي.

**ځواب:**

**وعليکم السلام و رحمة الله و برکاته!**

له پورتني متن نه مې دا درک کړه، چې ستاسو پوښتنه په ونو کې د مېوو د پلور په اړه ده. مثلاً: يو څوک د ونې څښتن ته داسې ووايي، چې غواړم د انځير د دې ونې حاصل او مېوه په دغه موسم کې واخلم او حاصل يې زما ملکيت کېږي. له هغې يې خورم او پلورم، تر هغې چې په دغه موسم کې د ونې حاصل خلاص شي او دواړه د يوې ټاکلې اجورې په بدل کې پر دغه کار هوکړه وکړي. تاسې پوښتئ، چې دا کار روا دی او که نه؟ که زما درک سم وي، نو دا ځواب درته وړاندې کوم:

هو! دا معامله په ډېرو اسلامي خاورو کې دود ده او په فقه کې «په ونو کې د مېوو پلور» په نوم يادېږي او عام خلک يې «د ونې معامله او تړون» بولي. دا روا دی، خو په دې شرط چې مېوه رسېدلې او پخه شوې وي؛ البته لازمه نه ده چې ټوله دې رسېدلې وي، ځکه ټوله په يوه وخت کې نه رسي. ځينې دليلونه او تفصيلات زموږ له کتاب «اسلامي شخصيت، دويم جز په ونو کې د مېوو پلور باب» نه درته رانقلوم:

په دغه تړون کې د شرعي حکم بيان، يعني د مېوو پلور د ونې په ښاخ کې، چې تر اوسه مېوه د ونې په ښاخ کې وي، شرحې ته اړتيا لري؛ ځکه په دغه تړون کې مېوې او حاصل ته کتل کېږي. که پخه او رسېدلې وي يعنې خوړل يې شوني وو، نو دا معامله روا ده. که مېوه پخه شوې نه وي او خوړل يې

ناشوني وو، په دغه صورت کې د مېوې پلور روا نه دی. مسلم له جابر رضی الله عنه نه روایت کړی دی:

**«نهی رسول الله عن بیع الثمر حتی یطیب»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېوو له پلور نه، تر هغې چې پخې شوې نه دي منعه کړې ده.*

همدرانګه یې روایت کړي دی:

**«نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم... وعن بیع الثمر حتی یبدو صلاحه»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم له... او د مېوې له پلور نه تر هغې منعه کړې ده ، چې ورسي (پخه شي).*

بخاري له جابر رضی الله عنه نه روایت کړی دی:

**«نهی النبي عن أن تباع الثمرة حتی تشقح، قیل ما تشقح، قال: تحمار وتصفار ویؤکل منها»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم له رنګ اخیستو مخکې د مېوې پلور منع کړی. پوښتنه وشوه، چې رنګ اخیستل څه شی دي؟ وېې فرمایل: سره او زېړه کېږي او د خوراک وړ وي.*

او همدارنګه بخاري له انس بن مالک نه روایت کړی دی:

**«أنه نهی عن بیع الثمرة حتی یبدو صلاحها، وعن النخل حتی یزهو، قیل: وما یزهو؟ قال: یحمار أو یصفار»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې مېوې پلور، چې نه وي رسېدلې، او د خرما تر هغې چې رنګ وانخلي، منع کړی. پوښتنه یې وکړه، چې رنګ اخیستل څه شی دي؟ وېې فرمایل: سره کېږي او یا زېړېږي.*

همدارنګه ده روایت کړی دی:

**«إن رسول الله نهی عن بیع الثمار حتی تُزْهي، فقیل له: وما تُزْهي؟ قال: حتی تحمر. فقال رسول الله : أرأیت إذا منع الله الثمرة بم یأخذ أحدکم مال أخیه»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم له رنګ اخیستو مخکې د مېوې پلور منع کړی. پو ښتنه ترې وشوه، چې رنګ اخیستل څه شی دي؟ وېې فرمایل: رنګ یې سور کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم وفرمایل: څه فکر کوئ، که الله سبحانه وتعالی مېوه په حاصل را نه ولي، هغه وخت به تاسې د خپل ورور مال د څه شي په مقابل کې اخلئ؟*

بخاري له عبدالله ابن عمر نه روایت کړی دی:

**«نهی عن بیع الثمار حتی یبدو صلاحها، نهی البائع والمبتاع»**
**ژباړه:** *رسول الله صلی الله علیه وسلم له پخېدو مخکې د مېوو له پلور څخه پلورونکی او پېرودونکی دواړه منع کړي دي.*

مسلم په دغو الفاظو روایت کړی دی:

**«نهی عن بیع النخل حتی یزهو، وعن السنبل حتی یبیض ویأمن العاهة»**

*ژباړه: د خرما پلور یې منعه کړ، تر هغه چې ورسي (پخه) شي او د وربیو پلور یې منع کړ، تر هغه چې سپین او له آفته یې ډاډ تر لاسه شي.*

دغه ټول احادیث د نارسېدلو (خامو) مېوو د پلور منعه په ښکاره ډول بیانوي. نو د دغو احادیثو له مدلول څخه د نارسېدلو (خامو) مېوو د پلور د جواز پر نشت او له مفهوم نه یې د رسېدلو (پخو) مېوو د پلور پر جواز استدلال کېږي. نو پر دغه اساس د هغو ونو تړون او معامله، چې مېوه یې ښکاره شوې وه لکه: زیتون، لیمو، خرما او... که د خوړلو وړ وو، سمه او که د خوړلو وړ نه وو، معامله یې سمه نه ده.

له پورتنیو حدیثونو دا موضوع په ډاګه کېږي، چې د مېوې د رسېدلو او پوخوالي موخه د مېوې د خوړلو قابلیت دی؛ ځکه د نارسېدلو مېوو د پلور د منعې په موضوع کې د راغلو حدیثونو له ځینو مومو، چې په دې اړه بېلابېل تفسیرونه بیان شوي دي: د جابر رضی الله عنه په حدیث کې داسې بیان شوي دي: «تر هغه وخته چې پخه شوې نه وي» په دویم حدیث کې: «له رسېدو (پخېدو) مخکې» او د انس رضی الله عنه په حدیث داسې بیان شوي دي: «له توروالي مخکې د انګورو پلور او همدارنګه له کلکوالي مخکې د حبوباتو پلور یې منعه کړی دی.» (رواه ابو داود)

او په یوه بل حدیث کې، چې جابر رضی الله عنه روایت کړی دی داسې بیان شوي دی: «رنګ واخلي» او د ابن عباس په حدیث کې: «تر هغه چې د خوړلو وړ شي» نو پر دغه اساس ټول ذکر شوي حدیثونه یوه معنا ورکوي او هغه دا چې «د خوړلو وړ وي».

که د مېوو واقعیت ته ځیر شو پیدا کوو، چې نظر د مېوو بېلابیلوالي ته د خوړلو په قابلیت کې هم یو له بله بېلې دي؛ لکه څنګه چې د ځینو مېوو په رنګ کې په ښکاره تغیر د خوړلو قابلیت پیدا کېږي او د پخوالي نښې یې ښکاره کېږي لکه: خرما، انځیر، انګور، ناک او داسې نور. ځینې نورې، چې پخوالی یې لېږ په لټ اړولو او د ماهرینوله په وسیله پېژندل کېږي لکه خربوزه، چې پخوالی معلومول یې د رنګ له تغیره ستونزمن دي. ځینې نورې یوازې په مېوې د ګل بدلېدو د خوړلو وړ کېږي لکه: بادرنګ، تره او داسې نور. نو پر دغه اساس په مېوه کې د رسېدلو او پخوالي موخه همغه د خوړلو قابلیت دی او دلیل یې د مسلم حدیث دی، چې له عباس نه یې روایت کړی:

**«نهى رسول الله عن بيع النخل حتى يأكل منه أو يؤكل»**

*ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خرما پلور تر هغه منعه کړی، چې د خوړلو قابلیت ونه لري.*

همدارنګه هغه متفق علیه حدیث، چې جابر رضی الله عنه روایت کړی دی: **«حتى يطيب»** ژباړه: «تر هغې چې پخه شوې نه ده» له دې امله د ترې، بادرنګ او نورو د پلور رواوالی ترې په ډاګه کېږي. یعنې د بادرنګ او ترې پېړ او پلور یوازې دهغه د حاصل په ښکارېدو یعنې د ګل بدلېدل په بادرنګ سره روا دی. که څه هم، چې ځینې یې تر اوسه ګل دي او حتی مخکې له هغه چې ګل شوي وي، مېوه یې پلورل کېږي. یعنې د هغه کښت مېوه په همدغه حالت کې مخکې له هغه چې پیدا شي، یوازې د ځینو برخو د پیداکېدو له پیل سره سم پلورل کېږي او دا معدومه (نامعلومه) بیع نه ده؛ ځکه مېوه یې پر له پسې راځي او ټوله په یوه وار نه پیدا کېږي. له دې امله د یوه کښت مېوه په یوه موسم کې کومه چې شته وي او هغه، چې تر اوسه موجوده نه وي ټوله پلورل کېږي؛ ځکه فرق نه لري چې د مېوې پوخوالی یې په سوروالي څرګند شي لکه خرما یا په تورولي لکه انګور او یا د ناک غوندې د رنګ په بدلون او یا هغه چې د مېوې پخوالی یې د ځینو مېوو په څرګندېدو او ورپسې د نورو ګلونو په راتګ او بیا په مېوه ورکولو ښکاره شي.

خو هغه مېوې، چې د ګلونو بدلېدل یې په پوخوالي کې نه شمېرل کېږي لکه: خربوزه، چې په هغه کې دا امر روا نه دی. نو په ګل کې بادام او هغه انځیر، چې تر اوسه خام وي او د پخوالي نښې پکې ښکاره شوې نه وي، پلورل یې ناروا دي. په دې ځای کې موخه په ونه کې د هغه پلور دی یعنې د ونې معامله، ځکه په ونو کې د مېوې پلور د هغې په پخوالي پورې مشروط دی، یعنې په هغه څه، چې د مېوې په پخوالي دلالت کوي او د پوخوالي موخه د ونې د ټولو مېوو پوخوالی نه دی، دا ناشونې ده؛ ځکه مېوه دانه دانه او یا څو دانې پخېږي او وروسته نورې په تدریج سره پخېږي. همدارنګه د مېوې د پوخوالي موخه، د هغې پوخوالی په هر باغ کې بېل بېل نه دی او نه هم د ټولو باغونو د مېوو پوخوالی؛ بلکې د پوخوالي موخه د مېوې د جنس پوخوالی دی. که یې ډولونو په پوخوالي کې له یو بل سره توپیر نه درلود لکه: زیتون او دهغو د ډولونو پخېدل موخه دی او که یې ډولونو په پوخوالي کې له یو بل سره توپیر درلود لکه: انځیر او انګور. مثلاً کله چې د خرما د ونې یو څه مېوه په یوه باغ کې پخه شي، هغه وخت د خرما د ټولو ونو د مېوو پېر او پلور په ټولو باغونو کې روا دی. کله چې د منو یو ډول په ځینو ونو کې پخې شي، هغه وخت د دغه ډول منو پلور په ټولو باغونو کې روا کېږي. کله چې زیتون په ونو کې ورسېږي، پېر وپلور یې په ټولو باغونو کې روا کېږي؛ ځکه په پورتنیو حدیثونو کې داسې ذکر شوي وو:

***ژباړه:** د خرما پلور یې منعه کړ، تر هغه چې ورسي (پخه) شي او د وربیو پلور یې منع کړ، تر هغه چې سپین او له آفته یې ډاډ تر لاسه شي.*

**ژباړه:** له توروالي مخکې د انګورو پلور او همدارنګه له کلکوالي مخکې د حبوباتو پلور منعه کړی دی

نو د هر جنس او هر ډول مېوې حکم یې بېل بېل او مشخص بیان کړ، لکه څنګه یې چې په غلو دانو کې (کلک شي) او په انګورو کې یې (تور شي) ویلي دي. نو له نورو جنسونو او ډولونو په پام کې نیولو پرته د هر جنس د پوخوالي حکم مختلف دی او د رسېدو ( پوخوالي) کلمه، چې په حدیث کې د یوه جنس او یوه ډول په اړه راغلې، د مېوې په یوه برخه که هر څومره کمه هم وي، صدق کوي. سربېره پر دې د مېوې واقعیت پر دې دلالت کوي، چې په تدریج پخېږي. له هغه څه چې تېر شول، دا په ډاګه کېږي، چې د هېڅ ونې معامله یعنې له رسېدو (پوخوالي) مخکې د هېڅ ونې د مېوې پلور روا نه دی. هیله ده، چې ځواب روښانه شوی وي.

**ستاسو ورور عطاء بن خلیل ابورشته**
**۱۴۳۸هـ.ق، د جمادی الاول ۱۷مه**
**۲۰۱۷م، د فبروري ۱۴مه**